# زیاتره پوښتل کېدونکې پوښتنې: د خپلواکو پرېکړو نیولو برنامې (SDP) ګټې او پکې نوم لیکنه

دا لارښود د خپلواکو پرېکړو نیولو برنامې (SDP) په اړه عامو پوښتنو ته ځواب ورکوي. دا تشریح کوي چې څنګه دا برنامه تاسو ته ګټه درکولی شي. که تاسو په دې اړه لیوالتیا لرئ چې SDP څنګه کار کوي او دا څنګه تاسو ته ستاسو په خدماتو لا زیات واک درکوي، نو دا لارښود به تاسو سره مرسته وکړي چې په اساسي چارو پوه شئ او پرېکړه وکړئ چې آیا دا برنامه ستاسو لپاره مناسب ده یا نه.

## د خپلواکو پرېکړو نیولو برنامه (SDP) څه شی دی؟



د خپلواکو پرېکړو نیولو برنامه (SDP) تاسو ته په خپلو خدماتو او ملاتړونو واک درکوي. پر ځای د دې چې د سیمه ییز مرکز (Regional Center) لخوا د خدمتونو د اختیارونو محدودیت ولرئ، تاسو کولی شئ هغه خدمتونه وړاندې کوونکي وټاکئ چې ستاسو لپاره تر ټولو ښه کار کوي او د اهدافو او اړتیاوو په برخه کې له تاسو سره مرسته کوي. تاسو په خپله پرېکړه کوئ چې څنګه د خپل سیمه ییز مرکز د خدمتونو د بودیجې پیسې ولګوئ او هغه وړاندې کوونکي انتخاب کړئ چې تاسو غواړئ ورسره کار وکړئ، او تاسو ته ستاسو په خدماتو کې ډېر لچک او نوښتګري درکوي.

---

## SDP څنګه زما انتخاب او واک/کنټرول ښه کوي؟

د سیمه ییز مرکز په دودیز یعني عادي سیسټم کې، د خدمتونو وړاندې کېدلو طریقه کېدی شي د ځینو کسانو لپاره یو خنډ وي. تاسو په عمومي ډول اړتیا لرئ چې د هغه خدمتونو وړاندې کوونکو سره کار وکړئ چې د سیمه ییز مرکز لخوا تصویب شوي وي، او ځینې وختونه دغه وړاندې کوونکي ستاسو اړتیاوې نه پوره کوي.

په SDP کې، تاسو واکمن یاست:





- تاسو پخپله پرېکړه کوئ چې کوم اهداف ستاسو لپاره تر ټولو مهم دي.
- تاسو هغه خدمتونه وړاندې کوونکي استخدام کوئ چې ستاسو د اړتیاوو سره سم وي ترڅو تاسو خپل اهداف ترلاسه کړئ.
- تاسو ازادي لرئ چې د خپلې بودیجې پیسې د داسې چارو لکه د ټولنیز فعالیتونو یا د ځانګړو درملنو لپاره په نوښتګرۍ سره وکاروئ.

SDP تاسو ته اجازه درکوي چې ستاسو د شخصي اهدافو پر بنسټ د ژوند پلان جوړ کړئ.

---



## څوک د SDP لپاره وړتیا لري، او زه څنګه پوهېدای شم چې آیا دا زما لپاره مناسب انتخاب دی یا نه؟

هر هغه څوک چې د لانټرمن قانون (Lanterman Act) له مخې د سیمه ییز مرکز خدمتونو لپاره وړ وي، د SDP لپاره وړتیا لري. د 3 کلونو څخه کم عمره ماشومان کېدای شي ځینې محدودیتونه ولري.

SDP په پام کې ونیسئ که چیرې:

- تاسو غواړئ چې خپل د ژوند داسې پلان جوړ کړئ چې ستاسو د راتلونکي لپاره ستاسو د لید سره سمون ولري.
- تاسو داسې ځانګړي اهداف لرئ چې د سیمه ییز مرکز د دودیز یعني عادي خدماتو سره په اسانۍ سره نه پوره کیږي.
- تاسو خپل د هغه خدمتونو وړاندې کوونکو او کارکوونکو انتخابولو کې لا زیات واک درلودل غواړئ چې ستاسو د خوبونو/ارمانونو ترلاسه کولو کې به تاسو سره مرسته وکړي.

که تاسو ډاډه نه یاست، نو خپل د خدماتو همغږي کوونکي سره خبرې وکړئ یا د نورو معلوماتو ترلاسه کولو لپاره د SDP د پېژندنې او لارښوونې په یوه غونډه کې ګډون وکړئ.

## زه څنګه دا پروسه پیل کړم او دا څومره وخت نیسي؟



د پیل لپاره:

1. د SDP د پیژندنې او لارښوونې په غونډه کې ګډون وکړئ: د خپل سیمه ییز مرکز له لارې نوم لیکنه وکړئ خپل د خدماتو همغږي کوونکي سره خبرې وکړئ.
2. یو پر فرد تمرکز کوونکی پلان (PCP) جوړ کړئ: دا پلان ستاسو موخې که شما نیاز دارید تشریح می کند.
3. خپله بودیجه ترلاسه کړئ: ستاسو بودیجه د هغو خدماتو پر بنسټ ده چې تاسو په دوديز یعني عادي سیستم کې کارولي.
4. د لګښتونو پلان (Spending Plan) جوړ کړئ: دا پلان ښيي چې څنګه به تاسو د خپلې بودیجې پیسې ستاسو د اړتیاوو پوره کولو لپاره مصرف کوئ.

SDP ته انتقال کېدل کیدی شي څو میاشتې وخت ونیسي. ستاسو خپلواکه اسانتیاوې برابروونکی (IF) یا د خدماتو همغږي کوونکی کولی شي په هر ګام کې درسره مرسته وکړي.

## که زه د پروسې په جریان کې مرستې ته اړتیا ولرم نو باید څه وکړم؟



تاسو کولی شئ د SDP ټولې پروسې کې تاسو سره مرستې کولو لپاره یو خپلواکه اسانتیاوې برابروونکی (IF) استخدام کړئ. دوی ستاسو د PCP په جوړولو کې، ستاسو د بودیجې د پیسو اداره کولو کې، او د خدمتونو وړاندې کوونکو موندلو کې مرسته کوي.

یو IF تاسو لپاره وکالت یعني ملاتړ کوي ترڅو ډاډ ترلاسه کړي چې تاسو هغه خدمتونه ترلاسه کوئ چې تاسو ورته اړتیا لرئ.

## آیا زه کولای شم خپل نظر بدل کړم او دوديزو یعني عادي خدمتونو ته بېرته راوګرځم؟



هو! که SDP ستاسو لپاره مناسب نه وي، نو تاسو د دوديز یعني عادي سیمه ییز مرکز خدمتونو ته هر وخت بېرته راګرځېدلی شئ. SDP لچک لرونکی دی،
او که دا کار نه کوي، نو تاسو کولی شئ بېرته وګرځئ.

## ولې باید د دوديزو یعني عادي خدماتو پر ځای SDP غوره کړم؟



د SDP انتخاب کولو لپاره لاندې یو څو دلیلونه دي:

- ډېره خپلواکي: تاسو په خدمتونو او په خدمتونو وړاندې کوونکو واک لرئ.
- نوښتګر اختیارات: یوازیني خدمتونه لکه تفریحي فعالیتونه یا د مهارتونو د لوړولو برنامې چې په دوديز یعني عادي سیستم کې شتون نه لري.
- قوي کنټرول: تاسو په خپله پرېکړه کوئ چې څنګه خپله بودیجه وکاروئ، او د ژوند یو داسې پلان جوړ کړئ چې ستاسو د اهدافو او خوبونو/ارمانونو سره سمون ولري.

د خپلواکو پرېکړو نیولو برنامه (SDP) یو ډېر ښه انتخاب دی که تاسو غواړئ د داسې پلان ډیزاین کولو لپاره ډېر کنټرول، لچک، او آزادي ولرئ چې تاسو سره ستاسو د شخصي اهدافو ترلاسه کولو کې مرسته وکړي

**نن د پیل لپاره د خپل سیمه ییز مرکز د خدماتو همغږي کوونکي سره خبرې وکړئ!**

د *Alta California Regional Center* د خپلواکو پرېکړو نیولو برنامې *(Self-Determination Program)*
سیمه ییزې مشورتي کمیټې لخوا تمویل شوی دی
*SDPQuestions@altaregional.org*
د خپلواکو اسانتیا برابرونکو د روزنې اکاډمۍ په همکارۍ سره *www.iftrainingacademy.com*